د انگلستان او ويلز د حقوقدانانو

د بشر د حقوقو کميته

(BHRC)

# ټولنيز اقتصادي حقوق او پراختيا

افغانســـــتان

مى ٢٠٠٨ کال

د انگلستان او ویلز د حقوقدانانو
د بشر د حقوقو د کمیتې نشرات
لندن - (BHRC)

# د مطالبو فهرست

لومړی– د نړیوالو حقوقو اصول ........................................ **۵**
دوهم–مقایسوی قضائی رویې........................................ **۸**
(۱) د هند قضائی تجربه ........................................ **۸**
(۲) د جنوبی افریقې قضائی تجربه........................................ **۱۱**
دریم–د دولت اقدام ........................................ **۱۴**

# ټولنيز-اقتصادی حقوق او پراختيا

لومړی – د نړيوالو حقوقو اصول

د بشر د حقوقو په نړيواله اعلاميه کې دوه ډلې حقوق په رسميت پيژندل شوی دی چې په عنعنوی توګه له يو بل څخه بيل په نظر راځی لکه مدنی او سياسی حقوق او اقتصادی، ټولنيز او فرهنګی حقوق. دغه دواړې ډلې په بيلو ميثاقونو يعنی د مدنی او سياسی حقوقو نړيوال ميثاق او د اقتصادی، ټولنيز او فرهنګی حقوقو په نړيوال ميثاق کی بالترتيب انعکاس موندلی دي. څوک د حقوقو دغه دوې ډلې يو له بل سره تړلې ګڼې او نور د حقوقو په نامه د اقتصادی، ټولنيزو او فرهنګی آرمانونو د يادولو مفکوره د بشر د حق د مفکوری اهانت ګڼې.

د اقتصادی، ټولنيز او فرهنګی حقوق نړيوال ميثاق د ملګرو ملتو د عمومی غونډې له خوا د ۲۲۰۰A (XXI) شميره قطعنامې په لړ کی د ۱۹۶۶ کال د دسمبر د مياشتې په ۱۶ نيټه تصويب شو او د ۱۹۷۶ کال د جنوری د مياشتی په ۳ نيټه نافذ شو. افغانستان د ۱۹۸۳ کال د اپريل د مياشتی په ۲۴ نيټه ددغه ميثاق سره الحاق وکړ. دغه ميثاق پنځه برخې لري. لومړی برخه د مدنی او سياسی حقوقو د ميثاق په شان د نړی د خلکو د خوداراديت حق په رسميت پيژنی. دوهمه برخه د غړو هيوادونو د مکلفيتونو عمومی ماهيت راپيژني. دريمه برخه څرګند ماهوی حقوق را په ګوته کوی. څلورمه برخه د ميثاق د نړيوال تطبيق او پنځمه برخه د بشر د حقوقو د يوه تړون نهايی احکام په ځان کې لري. په دريمه برخه کې ماهوی حقوق د کار حق (۶ ماده)، د کار دعادلانه او مساعدو شرايطو حق (۷ ماده)، د صنفی اتحاديو د جوړولو حق (۸ ماده)، د ټولنيزو تأميناتو او بيمې حق (۹ ماده)، د خوراک، پوښاک او استوګنې په شمول د ژوند د مناسبې سطحې حق (۱۱ ماده)، د جسمی او فکری روغتيا حق (۱۲ ماده) او دتحصيل حق (۱۳ ماده) بيان شوي دي.

واضحه ده چی د اقتصادی، ټولنيزو او فرهنګی حقوقو او دمدنی او سياسی حقوقو د ماهيت تر منځ متقابله اړيکه وجود لري. د مثال په توګه:

- په دواړو ميثاقونو کی د مندرجو حقوقو د تضمين په اړه د تبعيض منع ګڼل شوې ده.
- که څه هم د تحصيل د حق او د مور او پلار له خوا د کوچني د مکتب د انتخابولو آزادي د اقتصادی، ټولنيزو او فرهنګی حقوقو په ميثاق کې تسجيل شوي دي (۱۳ ماده)، د پلار او مور له خوا د ماشوم د ديني او اخلاقي تعليماتو انتخابول د مدنی او سياسی حقوقو په ميثاق کې بيان شوی دی (۱۸ ماده).

- د صنفی اتحادیو د جوړولو حق په لومړی میثاق کی بیان شوی دی، مګر د ټولنې د آزادۍ حق چی د هغی لازمي شرط ګڼل کیدای شي په دوهم میثاق کې راغلی دی.
- په همدې ډول، د جسمی او فکری روغتیا حق په څرګنده توګه د ډیرو حقوقو لکه د بیان آزادی او سیاسی برخې اخیستنې لازمي شرط ګڼل کیږي.
- او امارتیا سین په خپل کتاب کې لیکي چې قحطي هیڅکله هغه هیواد ته نه ده راغلې کوم کې چې خپلواک وی، په منظمه توګه انتخابات دایر کړي، اپوزویسیون ګوندونه ولري چې د خپل د انتقاد غږ لوړ کړي، او مطبوعات ولري چې د سانسور نه خوندي وي.[1]

ددغې اړیکو په څنګ کې، ددغو دواړو میثاقونو ترمنځ یو شمیر توپیرونه لیدل کیږي. د مثال په توګه، د اقتصادی، ټولنیز او فرهنګی حقوقو د میثاق د ۲ مادی د (۱) فقرې سره سم غړی هیواد دنده لری چې په دغه میثاق کې راغلي حقوق په پرمختلونکي توګه او "موجوده منابعو د اعظمی حد " په مطابق پلي کړي. د ذاتی مشخصو حقوقو په هکله د مدنی او سیاسی حقوقو په میثاق کې داسې عبارتونه لکه "هرڅوک حق لري... " او یا "هیڅ څوک باید .. ". راغلي دي، په داسې حال کې چې د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګی حقوقو په میثاق کې اکثراً دغه فورمول چې "غړي هیوادونه د هر شخص د ... حق په رسمیت پیژني " راغلی دی. دغه ډول عباراتو ته د یو شمیر لیکونکو له خوا ګوته نیول شوی ده. دوی وایي چې ددغو عباراتو آخر نه معلومیږي او ډیر پروګرامي شکل لري[2]. لاندی مثال ته توجه وکړی:

د ۲ مادې (۱) فقره حکم کوي:

> د دغه میثاق هر غړی هیواد ژمنه کوي چې په دغه میثاق کې د مندرجو حقوق د بشپړ پلي کیدو په موخه د پرمختلونکي بریالیتوب لپاره څه په یوزاې توګه او یا د نړیوالو مرستو او همکارۍ، په تیره بیا اقتصادي او تخنیکي مرستو، له لیارې د ټولو اړوندو وسیلو په تیره بیا تقنینی اقداماتو په ګټې اخیستو سره، ګامونه اوچت کړي.

۱۱ ماده حکم کوي:

> ۱- ددغه میثاق غړي هیوادنه د هر سړي د خپل ځان او کورنۍ لپاره د ژوند یوه مناسبه سطحه لکه مناسب او کافی خوراک، پوښاک او کور د درلودلو، او د ژوند د شرایطو د دوامداره ښه کیدو حق په رسمیت پیژني. ددغه میثاق غړي هیوادونه ددغه حق د

---

[1] Amartya Sen, *Freedoms and Needs*, The New Republic (Jan ۱۰ and ۱۷, ۱۹۹٤) ۳۱ at ۳۲.
[2] Steiner and Alson, *International Human Rights in Context: Law Politics and Morals* (۲nd Ed) at p.۲٤٦.

ترلاسه کولو او پلي کيدو دپاره لازم ګامونه اوچتوی او په دې توګه د اړخونو د آزاد رضايت په اساس د نړيوالو همکاريو د ارزښت ضرورت مني.

۲- د دغه ميثاق غړي هيوادونه د هر سړي د لوږې نه خلاص بنسټيز حق په رسميت پيژني او د لاندنيو موخو لپاره وړ اقدامات او ځرګندې کړنلارې په يوازې توګه او ياهم د نړيوالې همکارۍ له لیارې پلي کوي:

أ. د توليدی ليلو او ميتودونو سمول، د تخنيکی او علمی پوهې په ګټې اخيستو سره د خوراکی موادو ساتل او توزيع کول، د تغذيې د پوهې د اصولو خپرول، د طبيعي منابعو د پراختيا او ګټې اخيستو د ترټولو مؤثرې سطحې د رسيدو لپاره د کرنی د سيستمونو پراخوال او اصلاح کول.
ب. د احتياج په اندازه او د واردکوونکي او صادرکوونکي هيوادونو د پروبلمونو په نظر کی نيولو سره د نړۍ د خوراکي موادو د محصولاتو د عادلانه توزيع کولو تامينول.

۱۲ ماده حکم کوي:

۱- د دغه ميثاق غړي هيوادنه د هر سړي ترټولو ممکنې لوړې سطحې پورې دځانی او فکری سلامتيا حق په رسميت پيژني.

۲- هغه ګامونه چې غړي هيوادونه د دغه حق د پوره پلي کيدو په لاره کې اوچتوي لاندې موخوې لري:

أ. د مړ اولاد د زيږيدو د ميزان راټيټول او د ماشومانو د مرګ او مير کمول اود کوچنيانو سالمه پراختيا.
ب. د ژوند او صنعت د چاپيريال د حفظ الصحې د ټولو اړخونو سمول.
ج. د ساري، بومي، مسلکي او نورو نارغيو مخنيونه او تداوي.
د. د ناروغۍ په وخت کې د ټولو طبی خدماتو او مراقبتونو د تأمين لپاره د شرايطو برابرول.

دغه د عباراتو او جملو توپيرونه دي چې يو شمير مبصرين يې دې ته وهڅول چې استدلال وکړي چې د حساسيتونو له کبله نه شو کولای اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي حقوق د حقوقو ترنامه

لاندې وشميرو. دوی دغه حقوق او "حقیقی" مدنی او سیاسی حقوق یو له بل څخه په لاندې توګه بیلوي:[۳]

| مدنی او سیاسي | اقتصادی، ټولنیز او فرهنګي |
|---|---|
| بنسټیز او عمومی | یوزاې غوښتنه او هیله ده |
| د قابل العدل په نحو تعریف کیدای شي | د قابل العدل په نحو تعریف کیدای نه شي |
| یو روښانه کارمننونکی | ملی حکومت، نړیوال سازمانونه ، انجوګانې |
| د مکلفیت د ترسره کولو ظرفیت درلودل | رقیب اولویتونه او محدودې منابع |

د عدل قابلیت څه شی دئ؟ خبره داده چې آیا محکمې کولای شي او یاغواړي د یوه عارض دپاره چې د خپل د یوه څرګند حق د تیري په هکله شکایت لري کوم قضایي چاره او درمان وړاندې کړی او که نه. ولی د عدل قابلیت د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګی حقوق په هکله تر سوال لاندې راځي؟ ددغو حقوقو پلي کول داسی مسائل په ځان کې لري چې د منابعو په تخصیص پورې اړه لري. لومړی دا دلیل وړاندې کیږي چې که چیرې قرار داوي چې قضا په دغه ډول حقوقو باندې غور وکړي، نو دې ته مجوریږي چې د بودجوي تخصیصاتو په چارو کې چې د مقننه قوی صلاحیت دی مداخله وکړي. دوهم داسې دلیل وړاندې کیږي چې د منابعو د تخصیص چارې اکثراً د منابعو د نشتوالي او د رقیبو ګټو په شته والي کې صورت مومي؛ ددغو ګټو ترمنځ قضاوت سخت انتخابونو ته اړتیا لری کوم چې دهغو ارګانونو په واک کې دی چې په دموکراتیکه توګه انتخاب شوی دي. په داسې حال کې چې قاضیان نه دهغوی واک او نه مشروعیت لري.[۴]

## دوهم – مقایسوی قضائی رویې

### (۱) د هند قضائی تجربه

د هند د **۱۹۵۰** کال اساسی قانون یو فصل چې په " بنیادی حقوقو " پورې اړه لري تر زیاتې اندازې پورې مدنی او سیاسی حقوق احتوا کوي چې په ډیرو قضائی مسئلو کی څرګندیږي او بل فصل د "دولتی کړنلارې لارښودنکي اصولو " پورې اړه لري.

[۳] David Beetham, *What Future for Economic and Social Rights?* ٤٣ Political Studies ٤١ (١٩٩٥).
[٤] Cecile Fabre, *Constitutionalising Social Rights*, ٦ J. Polit. Phil ٢٦٣ (١٩٩٨), at ٢٨٠-٨٣.

**۲۱ ماده حکم کوي:**

هیڅوک د ژوند یا شخصي آزادۍ څخه نه محرومیږي مګر د قانوني مراحلو په بنا.

**۳۷ ماده حکم کوي:**

ددغې برخې مندرج احکام د محکمې له خوا تعمیل کیږي مګر داچې په دغه برخه کې مندرج اصول د حکومتدارۍ په چارو کې اساسي رول ولري، او د دولت دنده ده چې د دغه اصولو څخه د قانون په طرح او تدوین کې کار واخلي.

**۳۹ ماده حکم کوي:**

دولت خپله تګلاره د لاندنیو موخو د تأمینولو په لیاره کې سمبالوي:

(أ) د هیواد اتباع، ښځې او نارینه علی السویه، مناسب او کافي معیشت ته لاسرسنه ولري؛
(ب) د ټولنې د مادي منابعو مالکیت او کنترول داسې سمبال شي چې د عامه ګټو په خدمت کې وي؛
(ج) د اقتصادي نظام عمل د ثروت او تولیدي وسایلو د داسې یوه تمرکز سبب نه شي چې د عوامو په زیان وي ؛
(د) هم د نارینه و او هم د ښځو لپاره د مساوي کار په وړاندې مساوي اجوره ورکړل شي؛
(ه) د کارګرو، که ښځه وي یا نارینه، د صحت او کار د توان او کوچنیانو د نازک عمر څخه ناوړه ګټه وانه خیستل شي او خلک د اقتصادي مجبوریتونو له امله دې ته اړ نه شي چې په داسې کارونو کې ځان شامل کړي چې ددوی د عمر او سن سره مناسب نه وي؛
(و) کوچنیانو ته دې فرصت او امکان ورکړل شي چې په سالمه توګه او د آزادۍ او عزت په شرایطو کې وده وکړي، او د کوچنیوالي او ځوانۍ دورې د استثمار او اخلاقي او مادي بې بندوباریو څخه وژغورل شي.

**۴۱ ماده حکم کوي:**

دولت د خپل اقتصادی توان او انکشاف په حدود کې د کار حق، تحصیل حق او د وزګارۍ، زړښت، ناروغتیا او معلولیت په حالاتو او نورو احتیاجي مواردو کې د دولتی مرستی د حق د تأمینولو په لاره کې مؤثر تدابیر نیسی.

**۴۷ ماده حکم کوي:**

دولت د خلکو د تغذی سطحې او د ژوند د کچې لوړول او د عامې روغتیا سمول د خپلو بنسټیزو دندو څخه ګڼي.

دغه لارښودونکي اصول که څه هم په مستقیمه توګه د عدل قابلیت نلري خو د هند د عدلی نظام د اجراآتو دوه خصلتونه یو له بل سره تړي او په دې ډول په لومړي ګام کې حقوق په ستره محکمه کې څیړي چې د عامه ګټو یا د ټولنیز اقدام د دعوی سبب ګرځي. دغه اجرائي خصایل کوم دي؟

(۱) د لیکونو له لارې د هند په محاکمو کې قضاوت په داسې توګه چې ترلاسه شوي لیکونه چې د عوامو له خوا رالیږل شوی دی په تحریری عریضو باندې بدلیږي. ددې کار تأثیر دادئ چې قانون په داسی ډول بدلون ومومي چې پرګنې د خپلو حقوقو د تیري په هکله محکمو ته لاسرسنه ولري.

(۲) د محکمو له خوا ټاکل شوی ټولنیز او حقوقي کمیسیونونو له لیارې د بی وزلو هیوادوالو د بد حالت په باب د ارقامو او حقوقی مدارکو راټولول. دغه کمیسیونونه د دولت په پانګه جوړشوي او دهغوی په ترکیب کې عوام، ټولنیز پوهان او په زیاتیدونکي توګه پوهنتونونه او څیړنیزې ادارې چې د دعوی د غونډو لپاره اړونده رپوټونه جوړوي، برخه لري.

<u>اولګا تیلیس د بمبئی د بلدیې شرکت په وړاندې</u>، د آل اندیا ریپورتر خپروې، **۱۹۸۲** ستره محکمه **۱۸**

په دغه دوسیه کې هغه عریضې پرتې دي چې د سړک ترڅنګ بی وزله کوډلې اوسیدونکو په استاذۍ، چې بې ځکمې کارګران دی او د لرو کلیوالي سیمو څخه د کار د پیداکولو په خاطر حتی په ډیرې کمی اجورې سره بمبئي ته راغلي دي، محکمې ته وړاندې شوی دي. د مهاراشتا د ایالت صدراعظم اعلام وکړ چې ټول دغه کډوال د خپلو کوډلو څخه وایستل شی او خپلو اصلی سیمو ته ولیږل شي او د بمبئي د بلدیې شرکت ته یې امر وکړ چې ددوی کوډلې خرابی کړی او دهغوی اوسیدونکي د هغه ځای څخه وباسي.

عارضینو ادعا وکړه چې ددوی د کوډلو ورانول د اساسي قانون د ۲۱ مادې احکام تر پښولاندې کوي. هغوی ددې دعوا نه درلوده چې د سړک په اوږدو کې د ژوند حق لري بلکه ویې غوښتل چې د ژوند حق لري او ددغه حق څخه د معیشت د وسیلې پرته ګټه نشي اخیستی. له همدې امله یې د محکمې د مقام څخه هیله وکړه چې داسې یو امر صادر کړي چې د هغې مطابق دوی د هستوګنې د یوه بدیل نه پرته د خپلو کوډلو څخه ونه ایستل شي. حکومت داسې استدلال وکړ چې د ټولنې ډیر بې وزلې ډلو ته دهستوګنې مرستې شوې دي مګر د هستوګنې تخصیص باید د بیلابیلو اولویتي سکتورونو د متضادو غوښتونو د متوازن کولو نه وروسته صورت ومومي.

محکمه د عارضینو د استدلال نه ملاتړ وکړ او ویې ویل چې د اساسی قانون د ۲۱ مادې سره سم د ژوند په حق کې د معیشت حق شامل دئ. ددغه پایلې پر بنا محکمې د ۳۷ مادې مطابق د ۳۹ مادې د (الف) د فقرې او ۴۱ مادې په اصولو تکیه وکړه هغوی یې د اساسي حقوق د معنی او محتوی د درک او تفسیر بنسټ وګڼل. که چیرې مصلحت داوي چې دولت د خپلو اتباعو د معیشت د مناسبو وسیلو او د کار د حق د تأمین مکلفیت په غاړه ولري، نو دا به یو فضل فروشي وي چې د معیشت حق د ژوند د حق له محتوی څخه وایستل شي. که څه هم دولت نشو مجبورکیدای چې د خپلو اتباعو لپاره د معیشت کافی او مناسب وسیلی یا کار مهیا کړي، مګر هرڅوک چې د معیشت له حق څخه محروم شي، د عادلانه او منصفانه قانونی اجراآتو پرته، کولی شي دغه محرومیت د ژوند د حق د تیري په نامه د ۲۱ مادي سره سم محکمې ته شکایت وکړي. ددغه شرکت له خوا خلکو ته مهلت نه ورکول ددې سبب شو چې حق د عارضینو په خوا شي او له همدې امله محکمې فیصله وکړه چې دوی د جاری مونسون د فصل د پای نه یوه میاشت نور هم د خپلو کوډلو څخه ونه ایستل شي او وروسته بیا یوازې د محکمې په حکم.

مراجعه وکړئ د هند د ستړې محکمې پریکړو ته د کارناتکا ایالت در اپابالو اینګیل په وړاندې قضیه کې، ۱۹۹۳ کال د اوبو د حق په هکله؛ ساماتا د اندهراپرادیش د ایالت په وړاندې ، ۱۹۹۷ کال د معیشت د حق په هکله؛ او د خلکو د ملکی آزادیو اتحادیه د هند د اتحادیې او نورو په وړاندې ، ۲۰۰۱ کال د خوراک د حق په هکله.

(۲) د جنوبی افریقې قضائی تجربه

د جنوبي افریقې اساسی قانون چې د اپارتاید د رژیم نه ورسته په تصویب ورسید د هند د مدل لارښودونکي تګلاره د ټولنیزو حقوقو د رویې په نامه پیژني او هغه ته یې بشپړ د اساسي حقوقو رسیمت ورکړی دئ.

لومړی برخه لومړی فصل (بنیادی احکام) حکم کوي چې:

د جنوبی افریقې جمهوری یو خپلواکه دموکراتیک دولت دی چې د لاندنیو ارزښتونو پر بنسټ ولاړ دئ:

(الف) انسانی کرامت ، مساواتو ته رسیدل او د بشر حقوقو او آزادیو ته وده ورکول

د دوهم فصل بیلابیلې برخې (اساسي حقوق) حکم کوي:

۷ برخه - حقوق

(۱) دغه اساسي حقوق په جنوبي افریقې کې د دموکراسۍ د تهداب ډبره ده. په هغه کې زمونږ په هیواد کې میشته د ټولو خلکو حقوق تسجیل شوي دي او د انسانی کرامت، مساوات او آزادۍ دموکراتیک ارزښتونه تائید شوي دي.

(۲) دولت باید دغه اساسی حقوقو ته درناوی، او له هغو نه ساتنه وکړي، هغوی ته وده ورکړي او پلي یې کړي.

(۳) دغه اساسی حقوق د یو شمیر محدودیتونو تابع دي چې په ۳۶ برخه کې راغلي دي او یا هغوی ته اشاره شوې ده او یا ددغه فصل په بل ځای کې راغلي دي.

۲۶ برخه

(۱) هر شخص حق لري یوه مناسب کور ته لاسرسنه ولري.

(۲) دولت باید ددغه حق د پرمختلونکي پلي کیدو د سرته رسیدو په موخه معقول تقنینی تدابیر او نور اقدامات د موجوده منابعو په چوکات کې ونیسي.

(۳) هیڅوک د محکمې د حکم نه پرته چې د حالاتو د څیړنې نه وروسته صادر شوی وي د خپلې هستوګنې نه، نه ایستل کیږي او یا کور یې نه خرابیږي. هیڅ قانون په خپل سر اخراج مجوز نه شي ګڼلای.

۳۹ برخه - د اساسی حقوقو تفسیر

(۱) د اساسي حقوقو د تفسیر په وخت کې، یوه محکمه، دیوان یا مجمع

(أ) باید هغه ارزښتونوته وده ورکړي کوم چې د انسانی کرامت، مساوات او آزادۍ پر بنسټ باندې ولاړه خلاصه او دموکراتیکې ټولنې اساس جوړ کړي؛

(ب) باید د بین الدول حقوق په پام کې ونیسي؛

(ج)   کولای شي خارجي قوانین په نظر کې ونیسي.

(۲) هره محکمه، دیوان یا مجمع د یوه قانون د تفسیر په وخت کې او د موضوعه او یا عرفی قوانیو د تدوین په وخت کې باید د اساسي حقوقو روحیې، مفهوم او اهدافو ته وده ورکړي.

د جنوبی افریقی حکومت د گروتبوم په وړاندې، د دوسیې شمیره ۴ ۱۱/۰۰، اکتوبر ۲۰۰۰ کال

مدعی علیه اشخاص په یوه محله کې په یوه ډېر نه زعمل کیدونکي شرایطو کې د ملکیت د اسنادو پرته ژوند کاوه. لدې کبله هغوی یوه بل ځای ته چې د بل چا شخصي مځکه وه او د ارزان قیمته کورونو د جوړولو دپاره په نظرکې نیول شوې وه وکوچیدل. د مځکې خاوند محکمې ته عریضه وکړه چې د هغې په پایله کې د محکمې له خوا دهغوی د ایستلو پریکړه صادره شوه. هغوی د عالي محکمې نه هیله وکړه چې حکومت  دوی ته تر هغه وخته پورې چې دایمی هستوګنه په لاس راوړي، د اوسیدو ابتدایي مناسب ځای ورکړي. عالی محکمه پریکړه وکړه چې ددوی دپاره لږترلږه "خیمی، اریکینونه او په منظمه توګه اوبه" برابرې کړي. حکومت دا فیصله ونه منله او مرافعه طلب شو.

د اساسي قانون محکمه د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوق د میثاق د ۲ او ۱۱ موادو او هم د اساسي قانون د ۲۲ برخې په نظرکې نیولو سره د مناسب کور او ټاټوب د لاسرسنې د حق د پلي کیدو په لاره کې د دولت تدابیر تر غور لاندې ونیول او ویې ویل چې د اساسی قانون ۲۲ برخه دولت مکلف ګڼي ترڅو له یوې خوا د مناسب ټاټوب د لاسرسنی د منع مخنیوی وکړي او له بلې خوا د قوانینو د تدوین او د مالی منابعو په ګټه اخیستو سره خلکو ته د مناسب ټاټوب د لاسرسنې شرایط برابر کړي. باید ددې حق د تعمیل لپاره دولت د کور جوړولو داسې یو جامع پروګرام درلودلای وای کوم چې د هغه دقیق جزئیات د تقنینیه او اجرائیه قواؤ پورې اړه لری او دهغو موجوده منابعو له پولو څخه چې د دولت  په اختیار کې دي، وړاندې ولاړ نشي. د دولت په بیلابیلو تقنیني پروګرامونو کې د هغو خلکو لپاره چې مځکه تر پښو او بام پر سر نلري او یا د طبیعي آفاتو او پیښو او  د خپلو ټاټوبو د ورانیدلو له امله د بحران په حالت کې ژوند کوي هیڅ کوم څرګنده او روښانه تدبیر نه لیدل کیږي. له همدې امله دی چې د کورجوړولو ملی پروګرام، چې د منځ مهالو او اوږدمهالو موخو لپاره طرح شوی دی او ډېر سخت مهتاجو خلکو غم په کې ندی خوړلی شوی، د اساسی قانون د ۲۲ برخې مندرج وجایب په نظر کې ندی نیولئ.

همدارنګه لاندې دوسیو ته مراجعه وکړئ: سوبرامنی د عامې روغتیا وزیر )کوازولو- نتال) په وړاندې، د دوسیې شمیره: CCT ۳۲/۹۷  د نوامبر ۲۷ د ۱۹۹۷ کال او د معالجې او تداوی

کمپاین د عامې روغتیا وزیر په وړاندې، د دوسیې شمیره: ۸/۰۲ CCT ۵ جوالی سال ۲۰۰۲ د روغیتاد حق په هکله.

دریم–د دولت اقدام

د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنگی حقوقو د بین المللی میثاق تطبیق د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنگی حقوقو د کمیتې له خوا نظارت کیږي چې د ملگو ملتو د اقتصادی او ټولنیزې شورا له خوا د ۱۹۸۵ کال د می د ۲۸ نیټې د ۱۹۸۵/۱۷ گڼې قطعنامې په ترڅ کې د هغو دندو د ترسره کولو لپاره جوړه شوه کوم چې د دغه میثاق په څلورمه برخه کې دغې شورا ته محول شوی دي. په دغه کمیته کې ۱۸ تنه ماهران غړیتوب لری چې د څلورو کلو لپاره د جفرافیایي علی السویه استاذۍ پر بنسټ انتخابیږي. د ۱۲ مادې (۱) فقره د غړې هیواد څخه غواړي چې د دغه میثاق مندرجو حقوقو د رعایت کولو د رسیدو په لاره کې د اخیستل شوو گامونو او پرمختگ په باره کې خپل رپوټونه په لومړی مرحله کې د میثاق د تصویب د دوو کلونو په ترڅ کې او وروسته په هرو پنځو کلونو کې هغې شورا ته ولیږي. دغه کمیته همدارنگه خپلې "عمومی تبصرې" او یا په میثاق کې د مندرجو وجایبو او مکلفیتونو د تفسیر معتبر څرگندونې خپروي

د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنگې حقوقو اړونده قضیو د غور په وخت کې محکمې له یو لړ ربړونو او سختیو سره مخامخ کیږي. دغه کار ددې سبب شو چې کمیته لاندې تبصرې خپرې کړي:

> " د مؤثر تدبیر حق دامعنی نلري چې دغه تدبیر قضائی وي. په ډیرو مواردو کې یوازې اداری تدبیرونه کافی وي ... اداري تدابیر باید د لاسرسنې وړ، ممکن، په وخت او مؤثر وي ... مگر کله چې په میثاق کې یو مندرج حق د قضا د برخې اخیستلو نه پرته ناممکن وي، په دغ صورت کې باید قضائي تدابیر ونیول شي.

د مدنی او سیاسی حقوق په اړه عموماً داسې فرض کیږي چې د دغو حقوقو دتیریو د غور لپاره قضائي تدابیر ډیر ضروري دي. له بده مرغه د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنگی حقوقو په هکله دغه فرضول اکثراً چپه دئ. دغه توپیر نه د حقوقو په ماهیت کې او نه د میثاق په اړونده احکامو کې توجیه شوی دئ ... کله هم داسې مطرح کیږي چې د منابعو په تخصیص پوری اړونده مسئلې باید نه محکمو ته بلکه سیاسی مقامونو ته وړاندي شي. په داسې حال کې چې باید د حکومتی ارگانونو اړونده واکونو ته درناوی وشي،

لازمه ده چې اعتراف وکړو چې محکمې عموماً په یو زیات شمیر مسئلو کې چې په منابعو باندې مهم تأثیرات لري بوخت دي. "[۵]

کمیټې د خپلو څرګندونو په دوام زیاتوي چې ډیر شمیر حقوق لکه د ښځو او نارینه و د مساوي کار په وړاندې د مساوی اجورې حق ( د ۷ مادې د (الف) د فقرې (۱) بند ) ، د صنفي اتحادیو او اعتصاب حق (۸ ماده ) او د علمي تحقیقاتو او خلاقیت د آزادی حق (د ۱۵ مادې (۳) فقره ) د ژر پلي کیدو وړ حقوق دي.

دغه کار غړي هیوادونه په دې باندې مکلف کوي چې د حقوقو د تیریو په وړاندې اداري تدابیر ونیسي : د میثاق د مندرجو وجایبو او مکلفیتونو د ادأ کولو په لاره کې د عمدي، څرګنده او موخنیز ګامونو اوچتول او د تقنیني اقداماتو په شمول د ټولو لازمو امکاناتو څخه ګټه اخیستل.[۶] غړي هیوادونه باید د میثاق د منلو ورسته لومړی د دوو کالو په موده کې او وروسته بیا په هرو پنځو کلونو کې خپل ریپوټ وړاندې کړي. ددغو ډول ریپوټونو موخه څه ده:

- د ملی قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو د هراړخیزه څیړلو تأمینول؛
- د بی وزلو سیمو او ساحو او د ډیرو خوارو او محرومو لویو او کوچنیو ډلو په پام کې نیولو سره د موجوده وضعې د څیړنې لپاره د ارقامو او معلوماتو راټولول ؛
- دهغو اولویتونو د تعیین په شمول چې د میثاق احکام پکې ځلیږي په روښانه او دقیقو تګلارو د حکومت تشویقول ؛
- د خلکو له خوا د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو په باب د حکومت د پرګرامونو نظارت آسانه کول او د اړونده تګلارو په جوړولو، پلي کولو او څیړنه کې د بیلابیلو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګی سکتورونو د برخې اخیستو تشیقول ؛
- د داسې یو بنسټ جوړل چې د هغې پر بنا حکومت وکولای شي د میثاق د مندرجو مکلفیتونو د پلی کیدو اندازه وارزوي ؛
- غړیو هیوادونو ته د ټولو اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګی حقوقو د پرمختلونکي پلي کیدو په لاره کې د ربړونو او نشتوالیو د ښه پوهیدلو د ودې امکان برابرول؛ او
- کمیټې او غړیو هیوادو ته په مجموع کې دهیوادونو ترمنځ د معلوماتو د تبادلې د آسانه کولو او د ګډو ربړونو د ښه پیژندلو او د میثاق د مندرجو ټولو حقوقو د پلي کولو په لاره کې د ممکنه اقداماتو د بشپړ ارزولو امکان برابرول.[۷]

---

[۵] General Comment No.۹ (۱۹۹۸) UN Doc. E/۱۹۹۹/۲۲, Annex IV.
[۶] General Comment No.۳ (۱۹۹۰) UN Doc E/۱۹۹۱/۲۳, Annex III.
[۷] General Comment No. ۱ (۱۹۸۹) UN Doc E/۱۹۸۹/۲۲.

کميټه هر رپوټ ارزوی او خپلې اندېښنې او سپارښتونه د "نهائي مشاهداتو" په شکل اړونده هيواد ته استوي. افغانستان تر اوسه پورې د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو د ميثاق د پلي کېدو په هکله رپوټ ندی ورکړئ.

د بشر د حقوقو ملی نهادونه هم په دې هکله خپل نقش د لاندنيو اقداماتو له لارې لوبوي:

- د خلکو تر منځ په عمومي توګه او د خاصو ډلو لکه عامه خدمات، قضأ، خصوصی سکتور او کارګري جنبش تر منځ په خاصه توګه د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو د پوهيدلو او پيژندنې د سطحې د لوړلو په موخه روزنيز او معلوماتی پروګرامونو ته وده ورکول ؛
- د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګی حقوقو د ميثاق د مطابقت په موخه د قوانينو د مسودو او پيشنهادی طرحو په شمول د موضوعه قوانينو او اداري مقرراتو څيرکتنه؛
- د دولتی مقاماتو يا نورو اړونده موسسو د غوښتنې سره سم د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو په باب د تخنيکی مشورو برابرول او يا د احصايو مخ ته بوول ؛
- د ميثاق د مندرجو حقوقو د پلي شوي کار د اندازه کولو لپاره په ملي سطح کې د کچو تعيينول ؛
- د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو د پلي کيدو د سطحې د تثبيت په موخه د هيواد په دننه او يا په خوارو او محرومو سيمو او محلاتو کې د تحقيقاتو مخ ته بوول؛
- په ميثاق کې څرګندشوي او پيژندل شوي حقوقو د رعايت نظارت کول او دولتی مقاماتو او مدني ټولنې ته د اړونده رپوټ وړاندې کول ؛ او
- د هيواد په دننه کې داقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقوقو د پلي کيدو وړ اصولو د تيريو په هکله د شکاياتو څيړنه.[۸]

کميټه همدرانګه د رپوټ ورکولو په بهير کې د غير حکومتي سازمانونو ونډه اخيستنې ته ښه راغلاست وايي.[۹]
کميټه هيله لري چې په راتلونکي به بيا هم وکولای شي انفرادي شکايات وڅيړي - د ميثاق د ضميمې د يوه اختياري پروتوکول مسوده تر کار لاندې ده.[۱۰]

---

۸ General Comment No.۱۰ (۱۹۹۸) UN Doc E/C.۱۲/۱۹۹۸/۲۵
۹ http://www۲.ohchr.org/english/bodies/cescr/NGOs.htm
۱۰ http://www۲.ohchr.org/english/bodies/cescr/